# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



**ډ اکټر رحمت ر بی ز یرکیار**
September 26, 2009


# بايد بوش واشنگټن بمبارد کړی وای؟! :
# د افغانستان په اړه د ۹۱۱ شواهد


**ليکوال : ډ اکټر رحمت ر بی ز یرکیار، خپلواک څېړونکی**


**Bush "Ought to be Bombing Washington": 911 Evidence Relating to Afghanistan**

**By: Dr. Rahmat Rabi Zirakyar, Independent Scholar, U.S.A.**
September 26, 2009


د زییز کال ۲۰۰۱ د سپتمبر په يولسمه نېټه په امريکه کې ستره بخوله پېښه شوه . د هغه مهال ولسمشر جورج ډ بليو بوش په د غه اړه داسې وويل : « د ا اعمال پولاد ميده کوي، خو د امريکې د پرېکړې پولاد نشي چيتولی . امريکه د برید هدف شوې وه ځکه چې موږ په نړۍ کې د ازادۍ او فرصت ځلانده لاربښوده ډ يوه يو .او هېڅوک به د دغې ډ يوې د وړانګو مخه ونه نيسي .نن زموږ ملت شرارت [اِ يوَل ] وليد، او موږ د امريکې په خورا غوره اړخ ځواب ورکړ.» انګريزي متن داسې دی

"These acts shatter steel, but they cannot dent the steel of American resolve. America was targeted for attack because we're the brightest beacon for freedom and opportunity in the world. And no one will keep that light from shining. Today our nation saw evil, and we responded with the best of America."
President Geoge W. Bush,The Times, September 12, 2001

د ۹۱۱ له بخولې نه نهه ورځې وروسته، د زییز کال ۲۰۰۱ د سپتمبر په شلمه نېټه د امريکې د مرکزي استخباراتو خاص ټيم چې « جا بريکر» نومېده د تاشکند له لارې په افغانستان کې د شمالي ټلوالې سيمو ته ورننوت . زبرزواکې امريکې اووه لس ورځې وروسته، د اکتوبر په اووه مه نېټه په افغانستان بر بنډ عسکري ير غل وکړ

زه د لته د د وه وتلو پوهاند انو او يوه نامتو والي ( ګورنر) نظريې د ۹۱۱ د بخولې ( سپتمبر اا، ۲۰۰۱) او افغا نستان په اکله معرفي کوم . د ليکنې لومړۍ برخه د د وه بين المللي علمي کوپړيو په تازه چاپ شوي کتاب پېل کوم او په د وهمه برخه کې به د ويتنام د جنګ د عسکر، د پخواني پهلوان او ګورنر، او د غېر ګوندي امريکايي هېواد وال ( تبعه) ويناوې راوسپېرم چې په زييزکال ۲۰۰۸ کې يې د رېډ يو له لارې خپرې کړې دی

**د د وه پوها ند انو کتاب**

پوهاند نوام چامسکی او پوهاند گیلبرت اچکر، خطرناک قدرت : منځنی ختیز او د امریکي بهرنی سیاست، د ترهه گرئ، ولسواکۍ، جنگ ، او عدالت په اکله د یالوگونه ، بولد ر او لندن : پاراډیگم پبلیشر ،۲۰۰۹ ، مخونه :د ولس +۳۱۹ . په کتاب کې دري تنه گډون لري : شتیفن آر شلُم چې د پوهاند چامسکی شاگرد و اود دې کتاب سریزه یې لیکلې ده پوښتني کوی، او پوهاند چامسکي او پوهاند اچکر یې ځوابونه وایي

Noam Chomsky and Gilbert Achcar, Perilous Power : The Middle East and U.S. Foreign Policy, Dialogues on Terror, Democracy,War, and Justice (Boulder & London: Paradigm Publishers), expanded edition, 2009, pages xii + 319

شلُم د نیوجرسي په ویلیم ژپیترسن پوهنتون کي د واگپوهني ( سیاسی علومو) پوهاند دی . چامسکي په امریکه کې د مسیچیوسیت د تکنالوجی په اِنستیتوت کې متقاعد پوهاند دی . د ی د نړۍ د خورا سترو ژبپوهانو او نامتوسیاسي تحلیلگرانو په ډله کې یوه وتلې کوټرۍ ده ، او په نړۍ کې د هغه چا په جمله کې شمېرل کېږي چې خلک یې ډېر اقتباسوي . خو د امریکي غټ مطبو عات ورسره راشه د رشه نلري .اچکر په سینیگال کې زیږېدلی دی ، لبناني-فرانسوي اکاډمیک شخصیت دی، او د جنگ په ضد فعالیتگر دی . هغه تر ۲۰۰۳ په پاریس پوهنتون کې د بین المللی اړیکو په تد ریس بوخت و . له دې وروسته ورته د برلین په مارک بلوخ مرکز کې علمي مقام وروسپارل شو. د ۲۰۰۷ راهیسي اچکر په لند ن پوهنتون کې د پرمختیایی مطالعاتو او بین المللی اړیکو پوهاند دی . اوس به پوښتنو او د یالوگ ته غوږ ونیسو

**پوهاند شلُم : په ۲۰۰۱کې دافغانستان په ضد جنگ څنگه ارزوئ ؟**

**د چامسکي په اند :** د غه جنگ په وروستیو کلونو کې « د سترو بې رحمه جنایتونو» په شمیر کې راتلو . د جنگ په پیل کې د بمباریو له امله د مرگ خطر لا زیات شو ، او خیریه مرستند وی سازمانونو هیله وکړه چې که بمباری تم شی . افغانانو هم د غسې چغه ووېستله . د بیلگې په ډول، کوماندان عبد الحق چې په امریکې «گران» و، د امریکي بمبار ی یې په « کلکه سره» وغندلې ځکه چې هغوي د امریکي عسکری زور ښئ او په عین حال کې د طالبانو په ضد د افغانانو هڅې کمزورې کوي . له نېکي مرغي، پنځه تر اووه ملیون انسانان چې د لوږې له لارې یې مرینه اټکل شوې وه ، مړه نشول . خو د اسي معلومېږي چې د د غه ډول عملیاتو د اخلاقي عواقبو په اکله کوم تصور نه برېښېده چې په خپل وار سره د د غه تصور نشتوالی « کاملاً لړزونکی» دی [ دَ ټ اِز ابسلوټلي شاکینگ]. د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په لومړیو ورځو کې امریکي له طالبانو نه وغوښتل چې بن لادن دې وروسپاري . طالبانو ورغبرگه کړه چې نوموړی به یو اسلامي هېواد ته وروسپاري

**گیلبرت اچکرې** د دې سه جوخت وویل : طالبانو د بین الد ول حقوقو له نظره « یو معقول دلیل» [سینسیبل ارگیومېنټ] وړاندې کړ . هغوی له امریکي نه وغوښتل چې د شواهد و سره دې د بن لادن د تسلیمی رسمي هیله وړاندې کړي

**چامسکي :** « د ا د قیقاً سمه ده » [ دَ ټ اِز اِیکزاکټلي رایټ]. بې له لاسوند ونو نه له یوه بل حکومت نه د یو چا د تسلیمولو غوښتنه ناشنا خبره ده . فرض کړئ چې ایران له امریکي نه غواړي چې تېر ولسمشر جورج ډبلیو بوش ( جنوری ۲۰۰۱ تر جنوری ۲۰۰۹) دې ورته وروسپارل شي .هېڅوک به یې په غوښتنه سر ونه گروي . « موږ اوس په یو دلیل پوهېږو» چې د بوش اد ارې ولې طالبانو ته د بن لاد ن د گناه لاسوند ونه وړاندې نکړل،ځکه واشنگټن « هېڅ نلرل » [ دې ډېډ نټ هېو اَنیتینگ ]. د کال ۲۰۰۱ د اکتوبر په اووه مه نېټه، امریکي په افغانستان څرگند عسکري برید وکړ . له د ېنه اته میاشتې وروسته، د زییزکال ۲۰۰۲ په جون کې د اِیف بي آی مشر رابرټ میولر مطبو عاتو ته وویل چې د ۹۱۱ په بخوله کې د چا لاس و . « اِ ف بي آی نه پوهېد له » [ اِیف بي آي ډېډ نټ نُو]. « حد اکثر» چې رابرټ میولر پرې وروسته له ډېر و تحقیقاتو پو ه شو، د ا « باور» [وي بېلیو ] و چې د ۹۱۱ د د سیسې تنسته به په افغانستان کې جوړه شوې وي، خو د هغې پلان کول او پلې کید ل به په متحد و عربو امارتونو او جرمني کې بشپړ شوي وي . د د ې مانا دا د ه چې اِیف بي آی د ۹۱۱ پېښې لپاره اته میاشتې وروسته ، د پخو شواهد و په ځای په حد س او گمان تـه ډ ډه ولگوله . پایله د ا شوه چې امریکي اته میاشتې وړاندې( دجنگ د پیل په مهال ) هم کوټلي لاسوند ونه نلرل . پوهاند چامسکي وایي چې پخپله دی هم گمان کوي، خو د گمان په اساس یو څوک یو چا ته یوڅوک نه تسلیموي .طالبانو چې د ولسمشر بوش له دې امر نه ډ ډ ه وکړه چې بې له شواهد و ورته بن لاد ن تسلیم کړي، بوش د خپل جنگ په سرود کې یوه بله کړۍ ورزیاته کړه : هغه هیواد ونه چې ترهه گران ساتي، ترهه گر هېواد ونه دي او د ترهه گرو په څېر معامله به ورسره کېږي ،او ترهه گر هېواد ونه د

دې لايق نه دي چې د متهم د تسليمۍ هيله ورنه وشي . « د غه د جنګ يواځينی علت و.»]دَ بِټ واز دي سول کاز آف وار].په داسې حال کې چې افغانستان د ۲۰۰۱ کال په اکتو بر کې د بمبارۍ په د ربمه اونۍ کې سوځېده، د برتانيې لوي د رستيز اډ ميرال سَر ما يکل بوايس اعلام کړه چې : « فشار به تر هغه مهاله ادامه ولري چې پخپله د هېواد [افغانستان]خلک په دې وپوهيږي چې په مشرتابه کې بدلون راولي»[دي سکويز ويل کيری آن. ..اَنتِل دي ګېټ دي ليډرشيپ چېنجډ .] ددې وينا په اکله پوهاند چامسکي داسې نظر لري : «پام وکړئ!که د بِټه بين المللی تجاوز [ اَګرېشن ] نه وايي، مسلماً د ا تروريزم دی....: موږ به تاسې تر هغه مهاله بمباري کوو چې تاسې» خپل حکومت له منځه و بسئ

**پوهاند اچکر :** د بوش اداره بايد د ۹۱۱ د بخولې په اکله عکس العمل وښئ چې عراق ته لومړی که وروسته پام وکړي .لومړی عسکري عکس العمل په افغانستان را تاو شو ، ځکه چې القاعده هلته وه او د امريکې عوامو د غه انتقام په اسانۍ سره روغ ګڼلی شو . د اچکر په اند، امريکه په پاپيلانستان پسې افغانستان ته نه وه ورغلې لکه عراق ته چې پسې ورغلې وه . د افغانستان په کچه، په عراق کې د امريکې د عسکرو شمېر لس چنده دی . د افغانستان د کنترول لپاره بايد هلته امريکه په عراق کې له خپلو عسکرو نه زيات عسکر وساتي .افغانستان د امريکې لپاره يو ستراتجيک مورچل دی چې د روسيې او چين ټلوالې او القاعدې ته پاټک اچوي

“...the increasing military cooperation between China and Russia since the early 1990s has been, and remains, a major concern to U.S. policymakers, although they don’t speak much about it.”

**پوهاند چا مسکي د اسې وويل :** د شانګهاې د همکارۍ سازمان د اسيايی انرجۍ د امنيت د شپول [ايزيين اينرجي سېکيوريټي ګريډ ] سره « موازي» روان دی . د اسيايي انرجۍ د امنيت شپول [شبکه] يو ډ ول ناټو وزمه سازمان دی چې د مرکزي اسيا امنيت ته پام کوي او د امريکې سره مخامخ کيږي

“ a sort of NATO-style organization...to confront the United States [of America].”

**پوهاند شلُم وپوښتل چې امريکې بايد د ۹۱۱د پېښې په اکله څه ډ ول عکس العمل ښودلی وی؟**

**پوهاند چامسکي** ورته داسې وويل :د ۹۱۱ د پېښې سره بايد د يو غټ جنايت په څېر معامله شوې وای، په دې ډ ول : لومړی بايد معلوم شي چې د د غې پېښې جنايتکاران څوک دي، ورپسې دې هغوی توقيف شي ،او بيا دې هغوې محکمې ته راوستل شي . خو د ۹۱۱د بخولې جنايتکاران نه دي معلوم . له د غې پېښې نه اته مياشتې وروسته، اِف بي آې د ومره وويل چې د سيسه او اجرا يې شايد په متحد و عربې اماراتو او جرمني کې پلان شوی وی . د پېښې جنايتکاران بايد په د غوهېواد ونو کې لټول شوي او نيول شوي وای . فرض کړئ چې سړی د پېښې په ارتباط کې د بن لاد ن په باره کې لاسوند ونه (شواهد)لري . په دوهم پړاو کې بايد هغه څنګه ونيول شي؟ بايد هغه دې امريکې ته وروسپارل شي[سييک اِکسترادېشن ]. پوهاند چامسکي په موضوع د يو مثال له لارې رڼا اچوي : وينزويلا غواړي چې د لويس پوساد ا کاريليس په نوم يو رسوا ټروريسټ دې ورته تسليم کړی شي . نوموړی په ۱۹۸۵ کې په وينزويلا کې له جېل نه « په معجزيي ډ ول» وتښتيد . د امريکې متحد و ايالتونو هغه په السلواد ور کې ايلوپانګو هوايي اډې ته ولېږلو .له دغې اډې نه کاريليس د امريکايي عسکري منصبدار اُليور نورت سره يو ځای د نيکاراګوا په ضد په هغه جنګ کې برخوال شو چې په « کُنترا» مشهور و . د کُنترا په جنګ کې د ۹۱۱ په بخوله کې د وژل شوو انسانانو نه «ډ ېر زيات » خلک وژل شوي وو

“the United States send him off[ Luis Posada Carriles] to the Ilopango Air Base in El Salvador where he was working with the Oliver North operation to support the Contra war, a major terrorist war, which killed many more people than 911.”

دغه « غټ بين المللي تروريست» په دې وروستيو کې د امريکې متحد و ايالتونو ته وتښتيد، او وينزويلا د هغه د تسليمۍ غوښتنه کوي . پوهاند چامسکي وايي چې «همد غه د کړنې لار ده » . خو دلته مشکل د ا دی چې امريکه به يې ورته ونسپاري، او ښايي فلوريد ا ايالت ته يې واستوي چې د هغه ملګری اُرلاند و باش پکې ژوند کوي . اُرلاند و باش « احتما لاً» د کو بانا هوايي شرکت د الوتکې په چاود نه کې (۱۹۷٦ م) د

کاریلیس سره غبرګ شوی و . په دغه چاود نه کي ۷۳ تنه انسانان ووژل شول . اُرلاندو باش د اِف بي آی له خوا په دي تورن شوی و چي په « نړدي د برش تروریستي عملونو » کي يي ګډون لاره . اِف بي آی او د عد الت وزارت غوښتل چي باش دي له امریکي نه وشړل شي، خو ولسمشر جورج ایچ بوش (۱۹۸۹ تر ۱۹۹۳) عفوه کړ . پوهاند چامسکي دلته د تېر ولسمشر جورج ډبلیو بوش (۲۰۰۱تر۲۰۰۹) ډ اکترین یاني چغي/ نظریي ته زموږ پام راګرځوي چي په افغانستان باندي یي د امریکي برید ته لار پرانستله .دد غي ډاکترین له مخي هغه د ولتونه چي تروریستانو ته پناه ورکوي، تروریست د ولتونه دی او عین معامله دي ورسره وشي ( په پایله کي د طالبانو د ولت د امریکي د بمباریو په واسطه رانسکور شو) .د ا چي پخپله امریکي تروریستانو ته پناه ورکړي ده، روغه به د ا وای چي که امریکي په واشنګټن هم بمباري کړی وای

**“OK, then**, according to George W. Bush the **air force ought to be bombing Washington.”**

چامسکي وايي چي د وينزويلا او کو با په شان ، باید امرکي کلک شواهد لاسته راوړي واي او بیا يي له طالبانو نه د بن لاد ن د تسلیمی هیله کړي وای . په ۱۹۹۸ کي په افغانستان باندي د ولسمشر بیل کلینتن (۱۹۹۳تر ۲۰۰۱) بمباري ددي سبب شوه چي د طالبانو او القا عدي اړیکي غښتتلي شي . د کوماند ان عبد الحق په شمول د افغان مقاومت د مشرانو هڅه سمه وه چي د طالبانو واکمني له د ننه نه ړنګه کړي .عبدالحق او نور« په ښايسته ښه کچه، جدي سري وو....هغوي طالبان له د ننه نه راپرزولی شول» خو امریکي دغسي نه غوښتل او په ځای يي شمالي ټلواله ( « د جنګسالارانو او تروریستانو یوه ډ لګی » ) استعمال کړه

“ used the Northern Alliance, a bunch of warlords and terrorists.”

**پوهاند اچکر** د پوهاند چامسکي تحلیل داسي تايّید کړ : « کاملاً په عین ډ ول» لکه څنګه ښي چي په عراق کي له د ښه ډ ډ ه وکړه چي يو ځوک دي صد ام حسين له د ننی نه راوپرزوي، خو د اچي « عراق په ولکه کي راوستلی شي » [ اَنلېس دي ګُد کنټرول ایراک ]. د ټولو پورتنیو ا قتباسونو لپاره د کتاب ۷۱تر ۸۲ مخونه ولولئ

## د والي ( ګورنر) جسی وینتورا کتنی

د ویټنام د جنګ عسکر او د مینیسوټا ایالت پخوانی والي جسی وینتورا د او بو لاندي په تخریب کي او دغه شان په کنټرول شوي تخریب کي د پوهي خاوند دی [ اَنډ رواټر ډ یمولیشن، کنټرولډ ډ یمولیشن ]. په کنټرو ل شوي تخریب کي يوه جګه او غټه ود اني د نورو ودانیو په خوا کي داسي ړنګيږي چي ځای په ځای نيغه ولوېږي او ګاونډ يو ود انیو ته يي تاوان ونه رسيږي . وینتورا د ۹۱۱ په مهال ګورنر و . دی ښښه غواړي چي د نیویارک په ښار کي د الوتکو په واسطه د نړی وال تجارت د جګو ود انیو د تخریب تشریحات يي بي له شکه منلي وو. خو کله چي يي پخپله د د وه اونيو په اوږد و کي د ړنګو شوو ود انیو صحنه ولیدله د جنایت رسمي تشریح يي رد کړه . په زیږ کال ۲۰۰۸ کي يي خپل قضاوت د ريډ يوګانو له لاري د اسي وړاندي کړ
**لومړی :** په نیویارک ښارکي د وه یوسل لس پوړه جګ تجارتي تعمیرونه الوتکو ووهل او هر يو يي په عین ګړند يوالي ( په لس ثانیو کي ) نيغ په خپل بنسټ پرېوت

“How could those buildings fall at the speed of gravity-if you put a stopwatch on them both of those World Trade Center buildings were on the ground in 10 seconds-how can that be?”, asked Ventura .

**د وهم:** په الوتکه کي چي کوم تېل سوځېږي، هغه د تیلي تود وښي سوځېد ونکي تېل دي[ ناټ هاټ برنینګ فیول ]. د غه ډ ول تېل د تعمیرونو پولادي شمزی نشي ويلي کولی

“Jet fuel is four fifths kerosene-which is not a hot burning fuel”, and it cannot melt “steel structured girders” which, in turn, would have “caused these buildings to pancake collapse to the ground?”

**د ريم :** پنځه ګینتي وروسته، د نړی وال تجارتي مرکز اووم ( يو پنځوس پوړه جګ ) تعمیر بي له دي چي کومي الوتکي وهلی وي، د د وه ذ کر شوو جګ پوړه تعمیرونو په شان نيغ په خپل بنسټ پرېوت

.د ۹۱۱ تحقیقي هیًت په پنډ کتاب کې د اووم تعمیر په اکله یو مخ هم نه دی تور شوی . گورنر وینتورا وایي چې « بې له شکه د غه تعمیر د تخریب په واسطه را نسکور شوی و.» - نو ډَ وټ د اټ دي بیلډ ینگ واز براټ ډَون وید ډ یمولیشن

**څلورم :** د گورنر جسی وینتورا سر په دې نه خلاصیږي چې یوه الوتکه دې د د فاع د وزارت تعمیر ووهي او د هغې وېجاړې شوې ټوټې دې ورکې شي . د جسی وینتورا یو ملگري په یوه کمپنۍ کې کار کاوه چې د بوینگ الوتکو په جوړولو کې مرستند وې وه . ده وینتورا ته وویل چې د بوینگ الوتکو اینجنونه ټوټه ټوټه کېد لی نشي ځکه چې « هغوی له ټیټانیوم پولاد و» نه جوړ شوي دي

Ventura's friend said: "They are made of titanium steel-they cannot disintegrate."

د جسی وینتورا له وینا نه سړی په وضاحت سره د اسې پوهیږي چې د نړۍ وال تجارت د مرکز د رې سیبونه ، د د اخلي چاود نې [ اِمپلوژن ] په واسطه نبغ په خپل بنسټ لوېد لي وو

"Upon looking at the film in super-slow motion and the way the buildings fell and comparing that to the way that they do like a controlled demolition of a hotel in Las Vegas, they both fell identical."

گورنر وینتورا یو بل ټکی ته هم گوته نیولې ده : د اِف بي آي په هغه لیسټ کې چې د کلک تعقیب لاندې په ټروریستانو ر اڅرخي ، د بن لاد ن نوم پکې د ۹۱۱ د بخولې په اړه نه دی خوندي شوی( د وینتورامرکه په ریډ یو کې : أئ اِم ۱۱۵۰، اگست ۹، ۲۰۰۸) . د لیل به یې د ا وي چې اِف بي آي کوټلي شواهد نلري . د دې دلیل د غښتلتیا لپاره ما زیرکیار ته یو بل ټکی را په زړه شو : د امریکې حکومت د ۹۱۱ له پېښې نه څه د پاسه د وه میاشتې وروسته د ۲۰۰۱ د د سمبر په د یارلسمه نېټه، د بن لاد ن د اعتراف وید یو وښود . که ومنو چې د غه ویډ یو اصالت [ اَوتېنسیتي ] او حقیقت [ تروتفُلنېس ]منعکسوي، نو بیاولې اِف بي آي له د ېنه ډ ډه کړې وه چې د بن لا د ن په مقابل کې یې د پاخه ثبوت په څېر وکاروي؟! د وینتورا وینا وې په اِینټرنېټ کې ولټوئ، په لاندې چینو کې

Jesse Ventura on 911 with Alex Jones 2008, infowars.com
Governor Jesse Ventura Says WTC Collapse a Controlled Demotion, send2press.com [Sept. 10, 09]
-----------------------------------------------------------------------, prisonplanet.com[Sept.10, 09]
Jesse Ventura talks 9/11 on Howard Stern-Democratic Underground [September 22, 2009]